# روحاني وسله

## تاسو کولای شئ ټينګ ودرېږئ

### د پيل ټکی

د سپيڅلي کتاب کوم ايتونه يا ايت په دې تېرو څو هفتو کې ستاسو د ډېرې هڅونې او تشويق سبب شوی دی؟

هغه موقيعت تشريح کړئ چې په هغه کې د سپيڅلي کتاب د يو خاص حقيقت په مرسته غښتلي شوي يئ؟

### بحث او خبرې

مونږ په خوړ انتظار سره خپل تلپاتي ژوند د مسيح سره تېروو. په داسي حال کې، د هغه ورځې پورې مونږ لاهم په يوه سقوط شوي نړۍ کې ژوند کوو، چيرته چې شيطان زمونږ د سقوط دپاره لاره لټوي.

- د ژوند په دې سفر کې شيطان د کومو مختلفو لارو نه په مونږ باندې حمله کوي؟
- په کومو برخو کې احساس کوئ چې زيات زيانمونکي يئ؟

### اصلي مفکوره

دا چې مونږ يو دښمن لرو، حقيقت دی، خو ښه خبر دا دی چې خدای زمونږ د پاره ساتنه چمتو کړی، تر څو مونږ هر يو د شيطان د نقشو په وړاندې ودرېږو.
که څه هم مونږ ضعيف يو، خو زمونږ خدای قوي دی.

د دښمن قدرت، د خدای له قدرت نه زيات نه دی. اول يوحنا ۴ :۴ مونږ ته تعليم راکوي چې څه په مونږ کې دي، د هغه په پرتله چې په نړۍ کې دي، ډېر لوی دي. روميان ۸:۳۷-۳۹ هم مونږ ته رازده کوي چې هيڅ شی نه شي کولای مونږ د خدای له مينې جلا کړي، نو په دې خاطر مونږ د شيطاني د قدرتونو په مبارزه کې يوازې نه يوو. خدای مونږ ته وسله راکړې ده تر څو په دې سفر کې د دښمن په وړاندې ودرېږو.

موږ په جګړه کې يوازې نه يو. خدای زموږ لپاره زغره چمتو کړې چې زموږ د ايمان په سفر کې د دښمن په وړاندې ودرېږو.

### په کلام باندې تعمق او غور

افسسيان ۶:۱۰-۱۸ ولولئ.
دې ټکي ته پام ولرئ چې په دې برخه کې، څه شی چې زمونږ د بريا سبب کرځي، د ښتن قوت دی.

- کومه کليمه په دې ايتونو کې څو ځلې تکراريږي؟ ستاسو په نظر دليل د دې تکرار څه دی؟
- ۱۲ايت مونږ ته رازده کوي چې زمونږ مبارزه د خلکو(بدن او وينې) سره نه ده، بلکې د دې توري نړۍ د شيطان د پوځونو سره ده. ولې د دې حقيقت پوهاوی چې کله په مونږ حمله کيږي، مهم دی؟
- فکرکوئ څنګه هر يو د دې شپږو برخو د روحاني جګړې وسله مونږ سره مرسته کوي تر څو د دښمن په وړاندې ودرېږو؟

### همدا اوس په ګډه تمرين وکړئ.

په دې خاطر چې وکولای شو په خپل ژوند کې د شيطان د حملو په وړاندې ودرېږو، بايد زده کړو چې څنګه په دوامداره توګه خپل ځان په هغه وسله سمبال کړو، چې خدای مونږ ته راکړې ده.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

1. په ګډه د هغي ستونزي په هکله خبري وکړئ چي د هغه سره مخامخ يئ او د هغه په وړاندي ودرېدو ته د خدای قوت ته اړتيا لرئ.
2. په دعا کي د خدای زغره اغوستل تمرين کړئ. لاندي مثال وکاروئ او د خپل وضيعت سره هغه ته سمون ورکړئ.
   - ښبتنه، نن د حقيقت ته ملا ترم. مهرباني وکړه ما ته پوهه او درک راکړه. له تا غواړم په هغو دروغو چي مي باور کړی دی، په خپل حقيقت باندي يي بدل کړه.
   - ښبتنه نن د صداقت زره اغوندم. زما زړه له ګناه څخه وساته. له تا نه شکرګذار يم چي د عيسی مسيح په واسطه پاک شوی يم او دا توان لرم چي په صداقت کي ژوند وکړم.
   - ښبتنه، نن خپلي پښي دي ته تياروم هر چېرته چي ته غواړي، لاړ شم. زه وېره د خپل ځانه لري کوم او اعلانوم چي د خپل ژوند په پړاونو کي ستا د سولي او ارامی وړونکی يم.
   - ښبتنه، نن د ژغورني خولي په خپل سر ږدم. هغه هويت چي په تا کي لرم خپل ځان را په يادوم. زه ستا ګران اولاد يم. هيڅ شی نه شي کولای چي ما ستا له مينې جلا کړي.
   - ښبتنه، نن د ايمان سپر را اخلم او هر کله چي د شيطان د حملو سره مخامخ کېږم، يقين لرم چي ته بريا لی يي او زه کولای شم چي د هغه په وړاندي ودرېږم. ته قادر خدای يي، ته نېک يي.
   - ښبتنه، نن روحاني توره په لاس کي اخلم، ستا کلام زما د پښو دپاره څراغ او زما د لاري رڼا ده. زه ستا په کلام مېين يم او په هغه باور لرم. زه پرېکړه کوم چي ستا د کلام نه اطاعت وکړم.
3. ايا په دي خاصو شرايطو کي چي اوس ورسره مخامخ يئ، کوم کس ستاسو د ستونزو سبب شوی دی؟ که ستاسو ځواب مثبت وي، د هغه کس دپاره دعا وکړئ. د خپل ښبتن په حضور کي اعتراف وکړئ چي هغه کس ستاسو دښمن نه دی، له خدايه وغواړئ چي د هغه کس په ژوند کي کار وکړي او هغه ته برکت ورکړي.

## هره ورځ خپل تمرين تکرار کړئ.

- د روحاني وسلي دا شپږ په ياد ولرئ.
- هره ورځ دعا وکړئ چي د خدای پشپړه روحاني وسله واغوندئ. هرمثال چي پورته ورته اشاره وشوه، وکاروئ.
- که په دي هفته کي د کوم ستونزمن وضيعت سره مخامخ شوئ، لاندي کارونه سرته ورسوئ:
  - د هغه کس دپاره چي احساس کوئ ستاسو دپاره يوه مانع ده، دعا او ورځنی برکت وغواړئ.
  - په دي شېبو کي، خدای حضور ته چيغي وکړئ، ترڅو تاسو ته توان او قوت درکړي، په ځانګړي توګه په هغه ځای کي چي ستاسو وسله ضعيفه ده.
  - په دي هفته کي د يو بل سره اړيکه ونيسئ، تر څو په ګډه دعا وکړئ او يو بل ودريدو ته وهڅوئ.
- په دي هفته کي يوه ورځ د پنځلس دقيقو نه زيات د عبرانيانو په ۱۲: ۱-۲ غور وکړئ او عيسی مسيح ته وګورئ چي هغه زمونږ دپاره د ودرېدو يو بشپړ مثال دی.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved